د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د پالیسي پاڼو لړۍ

# ډموکراټیک کول او ټاکنې

انا لارسن
د ۱۳۸۸ کال د کب میاشت

## سریزه

په افغانستان کې د یوې بنسټیزې ډموکراسۍ لپاره باید هغه د افغاني شرایطو سره سم بیان شي. دابايد ددې پر ځای چې د افغانانو هویت ته د یو خپلواک اسلامي ملت د اتباعو په توګه یو ګواښ وي باید هغه تایید کړي. سر بېره پر دې، د ډموکراټیک کولو بهیر د افغان حکومت اومرستندویه ټولنې له خوا د سیاسي او اداري سازمان جوړونې د یوې بنسټیزې، او اوږد مهالې ژمنې د یوې برخې په توګه باید وهڅول شي.

دانتخابي حکومت په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې روانه څېړنه په شپږو ولایتونو کې د ډموکراسۍ تعبیر د افغانانو په منځ کې راسپړي. لومړنی موندنې د "ډموکراسۍ" او د هغه ارزښتونو چې ډموکراسي یې په ځان کې رانغاړي بحث پارونکی ماهیت څرګندوي. همدا راز د ځواب ویونکو په منځ کې په دې هکله چې ډموکراسی له ځانه سره لویدیځ غیرمذهبي ارزښتونه یې راوړي چې د افغانستا ن له اسلامي هویت سره له ډېرواړخونو سمون نه لري. "ډموکراسي" په پراخه توګه د هیواد په نورو سیاسي او ټولنیزو چارو کې د بهرنیو نورو لاس وهنو په څېر د یو را وارد شوې سیستم په توګه ګڼل کیږي.

د افغانانو په اند ډموکراسي هم د نه تر سره شوو هیلو( که څه هم چې کله کله غیر واقعي دي) د پایلو په څېر بی اعتباره شوې ده. په ۱۳۸۰ کال کې د ډېرولو خوا د اقتصادي پراختیا او امنیت په هکله وړاندوینه ریښتیا نه شوه. پرحکومتي جوړښتونو باور هم کم شو، د ۱۳۸۸ کال د درغلو ټولټاکنو چې د ډېرو هغه سازمانونو چې د ډموکراټیک بهیر د پلي کولو په نیت طرح شوې وو د اعتبار په راکمولو کې اغیزمن وو. مرستندویه ټولنې او پالیسي جوړونکو اوږد مهالې سازمان جوړونې ته چې د تلپاتې ډموکراټیک ثبات د تضمین لپاره اړینه وه له ژمنې پرته پر ټاکنو یې لنډ مهالې پاملرنې ته لومړیتوب ورکړ.

له دغو لاملونو سره سره، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې څېړنې وموندل چې په ټاکنو کې د خلکو ګډون او له دې لارې د مشر د ټاکلو نظریې څخه لا تر اوسه هم په بنسټیزه توګه ډېری خلک هرکلی کوي. اندیښنې یواځې د سیاسي ګډون پرنظریې ولاړې نه دي بلکې پر هغه اړتیا چې د اسلامي ارزښتونو د ساتنې، په برابره توګه د ګډون کوونکو د برخه اخیستنې لپاره لاره هواره شي، یو امن چاپیریال، او د پایلې په توګه د حکومت له خوا د لمس وړ خدمتونو چمتو کولو لپاره ژمنې تضمین کړي.

نوموړې پالیسي پاڼه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د انتخابي حکومت د څېړنې موندنې لنډوي او د لاندینیو دریو موضوعګانو په اړه وړاندیزونه کوي:

۱. **د ډموکراسۍ مفهوم:** په افغانستان کې له ټاکنو او د یوې انتخابي ادارې له اصولو څخه په پراخه توګه هرکلی شوی، خو د ډموکراسی

## د لیکوال په هکله

انا لارسن د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د حکومتدارۍ دډلې یوه څېړونکې ده، او د ۱۳۸۳ کال راهیسې په افغانستان کې د حکومتدارۍ او جنسیت په اړه په کار بوخته ده. نوموړې د تاوتریخوالي ، شخړو، او پراختیا په اړه د لندن د SOAS پوهنتو ن څخه یې خپله ماسټرۍ تر لاسه کړې ده.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

دافغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي او د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي.

**پته:**

د ګل پلورلو سړک (د دوهمې کوڅې کنج)، نوی ښار، کابل

ټیلیفون: ۰۷۹۹ ۶۰۸ ۵۴۸

ویب پاڼه: www.areu.org.af

برېښنالیک: areu@areu.org.af

دغو ځانګړتیاوو پرته دیوې فعالې ډموکراسۍ درلودل غیر منطقي کار ګڼي او دا چې څرنګه خپره بیوزلي او نا امني د سیاسي استازیتوب ارزښت له ګواښ سره مخامخ کوي.[۲] په دې توګه د په کارول شوې ډموکراسۍ ځانګړتیاوې د لیبرالو ارزښتونو سره چې وړاندې پرې بحث وشو ورته کیږي- دا د ډموکراسۍ د مفهوم د څرنګوالي نه بېلېدونکې برخه ګرځي، او له دې کبله که چېرې یو هیواد له دغو معیارونو سره سم ژوند ونه کړي نو دا یو "غیر ډموکراتیک" حالت دی، او یا په خپله ډموکراتیک نظام ګرمیږي. که چېرې ډموکراسي په هغه ډول چې د افغان حکومت له خوا پلې شوې ده ورته اداري جوړښتونو ته چې د حکومت ضد فعالینو له خوا وړاندیز شوې دي ( پلې شوې دي)، یو په زړه پورې یا بریالی بدیل وړاندې نه کړي، د بلوا ګرو ډلو څخه ملاتړ به ښایي زیات شي.

په دې برخه کې د افغان حکومت لپاره مهمه ستونزه پرسیاسي سازمانونو د اعتبار او د باور د پیاوړي کولوپه اړه د خلکو پر قانع کولو ولاړه ده. د ۱۳۸۸ کال ټولټاکنو دهغه مهمو توپیرونو له کبله چې د رایو د شمیرو په برخه کې د رای شمیرلو په مرکزونو، ولایتي مرکزونو او وروستنیو شمیرو تر مینځ وې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ناپیلتوب او وړتیایي له پوښتنې سره مخامخ کړه. د ولایتي شورا ګانو پر پایلو لاهم په یو شمیر ولایتونو کې بحث روان دی.[۳] دا تر یوه حده د ټاکنو تر مینځ پړاو کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د نورو سیاسي سازمانونو( لکه ګوندونو) څخه د افغان حکومت او د مرستندویه ټولنې د نه ملاتړ پایله هم ده. خو دا د ټاکنو د خپلواک کمیسیون دنده هم ده څو دا اطمینان تر لاسه کړي چې ددوی کړنې د افغانانو له نظره مشروع ګڼلې کیږي. که چېرې د مهمو ډموکراتیکو بهیرونو روڼوالي او کره توب د شک سره مخامخ وي، نو د ګډون او ځایي برخه اخیستنې هڅونه به په زیاتیدونکې توګه ستونزمنه وي.

په پای کې، ددغو سازمانونو اعتبار په سیاسي بهیر کې د نړیوالې ټولنې د بې ځایه لاسوهنو په واسطه کمزورۍ کیږي. په مرکو کې ګڼ شمیر ځواب ویونکو د بهرنیو فعالینو ګاونډیو هیوادونو یا مرستندویه حکومتونو د لاسوهنو- او همدا راز دهغه توګه چې دغو لاسوهنو ددوی د رایو ارزښت یې اغیزمن کړ وغږیدل. دا په ځانګړې توګه د ولسمشریزو ټولټاکنو لپاره د پلان شوې (او بیا لغو شو) بل دور ټاکنو لامل شو. که چېرې لاسوهنې د ډموکراتیک بهیر مشروعیت له ګواښ سره مخامخ او هغه ویره پیاوړې کړي چې افغانانو په خپله یې د خپلو ټولټاکنو د پایلو په ټاکلو کې یې لږه ونډه درلودله.

[۲] دغه اندیښنه په عمومي توګه هغه بحث شوې موضوع څرګندوي چې آیا ډموکراتیک سیاست به د اقتصادي ودې او یا د بیوزلی د راټیټیدو لامل شي، یا آیا پرمختیا او د بیوزلی د ټیټیدل د ډموکراسۍ لپاره وړاندیني شرطونه دي. د بیلګې په توګه د ادریان لفت ویچ، ایولین هابر، مشتاق خان، جین ګروګیل او بی. ای ( مباحثه: ډموکراسي او پراختیا) وګورۍ په نوي سیاسي اقتصاد کې ۷،۲ نمبر( ۲۰۰۲): ۲۶۹-۲۸۱؛ په څرګند ډول نور لاملونه هم د ډموکراتیکي حکومتدارۍ د مخکینیو شرطونو په توګه ثابت شوي دي- لکه بنسټیز امن، د قانون واکمني او سواد. سره له دې چې اقتصادي پراختیا ټولنیزې ویشنې زیاتوي د ډیرو له نظره د ډموکراسۍ د چانسونو د لا س ته راوړلو د مهمو معیارونو په توګه پیژندل کیږي- د فرانسیس ستیوارټ او میګهان اوسلیوان( ډموکراسي، شخړې او پراختیا- درې حالتونه) وګورئ .( اکسفورډ، د ملکي الیزابت کور، ۱۹۹۸)، http://www3.qeh.ox.ac.uk/RePEc/qeh/qehwps/qehwps15.pdf,n د ۱۳۸۸ کال د اګست په ۱۴ نیټه د لاس رسۍ وړ وګرځید.

[۳] دا په دې وروستیو کې د ۱۳۸۸ کال د مرغومي په میاشت کې څرګند شوې دي، کله چې د ولایتي شورا ګانو ناراضو نوماندو او رایه ورکوونکو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون چارواکو په هکله یې پر پارلمان فشار راوړ ( د څېړنې یادونې ۱۳۸۸-۱۳۸۹)

## وړاندیزونه:

- په ځایي کچه اقتصادي پراختیا خورا مهمه ده. که چېرې په ځایي کچه د افغانستان اقتصادي پراختیا مثبتې اغیزې ونه لرې او یا د هیواد اکثریت خلکو ته ګټور نه وي نو د افغانستان د حکومت د ملاتړ لپاره به لږ هڅوونکي (انګیزې) موجودې وي. خپرې بیوزلۍ په ټاکنو کې یې استازیتوب ته زیان ورساوه او هغه وخت او تجربه یې محدوده کړه چې خلکو د سیاسي ګډون لپاره یې درلوده. د افغان حکومت او مرستندویه ټولنې له خوا زیاته پاملرنه بایدپه دې ولګول شي څو دا تضمین کړي چې ځایي اقتصاد نه یواځې په هغو ولایتونو کې چې د مرستندویانوپه لومړیتوبونو کې دي بلکې د افغانستان په ټولو ولایتونو کې وده موندلای شي. چې دا کار کیدای شي د هغه تصور پر ضد وکارول شي چې ګواکې مرستې په نا انډوله توګه په نا امنو سیمو کې د انعام په توګه ویشل کیږي. په ټولو سیمو کې د امنیت د برابرولو او ساتنې لپاره یوه اوږد مهاله ژمنه اړینه ده.
- د ادارو اوږد مهاله جوړونه باید دافغان حکومت او مرستندویه ټولنې لپاره یو لومړیتوب وي. ټاکنې په خپله ډموکراتیک کول په ځان کې نه رانغاړي. د ټاکنو تر مینځ د اداري او سیاسي سازمانونو د رغونې لپاره اوږد مهاله ژمنه خورا ارزښتناکه ده او باید د کابل په کنفرانس کې وشي. که چیرې د ملي سیاسي او اداري سازمانونو د وړتیا او اعتبار د لوړولو لپاره ډیر څه تر سره نه شي نو ټاکنې به د درغلیو او عامه بحثونو سره مخامخ وي .
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون بایدد خپل اعتبار د بیرته لاس ته راوړلو لپاره د مسوولیت احساس وکړي. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون اعتباربه اعاده نه شي که لږ ترلږه افغانانوته د خپل مسوولیت ساتنې د ودې لپاره کوټلې ګامونه پورته نه کړي. نوموړي ګامونه باید د قراردادي کارکونکو د ظاهري حذفولو څخه زیات څه وي. په مرکز کې د درغلی هغه پیښې چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دایمي کارکونکو له خوا ترسره شوې باید د دوی د مشرتابه د ټاکل کیدو د څرنګوالي سره سم په سمدستي ډول په ډاګه شي.
- مرستندویه ټولنه باید په سیاسي بهیر کې له بیځایه لاسوهنو څخه ډډه وکړي. هغه تعبیر چې ګواکې د ۱۳۸۸ کال د ټولټاکنو پایلې د نړیوالو فعالینو له خوا له مخه ټاکل شوې وې پراخ دی. چې دې کار د رایې ورکولو ارزښت یې د ګڼ شمیر افغانانو په نظر کې کمزور ی کړ.[۴] دا به له عقله لیرې خبره وي که چیرې وویل شي چې مرستندویې ټولنې د افغانستان په کورنیو چارو کې یې سیاسي ښکیلتیا نه درلودله، خو مرستندویه ټولنه باید له بیځایو لاسوهنو څخه چې ښایي سیاسي بهیربه له ګواښ سره مخامخ کړي ډډه وکړي.

## ۳. د ۱۳۸۸، ۱۳۸۹ او تر هغې وروسته ټاکنې

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداري په څه ناڅه امنو ولایتونو کې د ډموکراسۍ د نه تر سره شوو هیلو، پر ادارو د شک او د ۱۳۸۸ کال د ټولټاکنو څخه د زیږنده فشار سره سره، د رایه ورکونې د بیلګو په اړه

[۴] نوح کاوبرن، د مشروعیت له لاسه ورکول؟ د حکومت، نړیوالې ټولنې او د ۱۳۸۸ کال د ټولټاکنو په اړه د ځینو افغانانو نظرونه( کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره ۱۳۸۸ کال)

کلمې اکثراً منفي مفاهیم یې له ځانه سره درلودلې دي. دا سې نه انګیرل کیږي چې دا به د یو ارزښت په توګه د افغانانو لپاره د منلو او یا د غوښتنې وړ وي.

**۲. پر ډموکراسۍ د باور له لاسه ورکول:** لوړې هیلې نه تر سره شوې پاتې دي، او په پایله کې د باور له لاسه ورکول چې پر سیاسي سازمانونو د نه اعتماد او د هغه تعبیر سره یو ځای دي چې د نړیوالو فعالینو له خوا د ټاکنو پایلې له وړاندې نه ټاکل شوې دي.

**۳. د ۱۳۸۸، ۱۳۸۹ او تر هغې وروسته ټاکنې:** له دغو ننګونو سره سره د وږي د میاشتې پارلماني ټاکنو ته د نوماندو او رایه ورکوونکو له خوا لا د مخه یو شان تیاری او لیوالتیا لیدل کیږي. په داسې حال کې چې په افغانستان کې ټاکنیز بهیر کمزورتیاوې یې درلودلې خو د سیاسي ثبات د احساس د برابرولو لپاره پیل شوې او باید وساتل شي. سره له دې د پام وړ ټاکنیز سمون ته اړتیا ده.

## ۱ . د ډموکراسۍ مفهوم

په افغانستان کې ډموکراسي د زیاتو ارزښتونو درلودونکی مفهوم دی ، او یو لړ منفي مفاهیم له ځانه سره لري . دا په پراخه توګه له آزادۍ لکه په ټاکنو کې له برخه اخیستنې ، خو همدا راز له ډیرې زیاتې آزادۍ سره هم تړاو لري کوم چې کیدای شي فرهنګي او مذهبي نورمونه او ارزښتونه له پامه وغورځوي. ښاري ځواب ویونکو په ځانګړې توګه پر هغه اندیښنو یې بحث وکړ کوم چې په کلیو او بانډو کې میشت ځوانان او یا نور خلک ښایي په ښه توګه پرې پوه نه شي او له هغه آزادۍ څخه چې د ډموکراسۍ له لارې راوړل شوې ده" ناوړه ګټه" پورته کړي خو په ټولنه کې هغه د منلو نه وړ ټولنیز چال چلند توجیه کړي . د "ډموکراسۍ" کلمه همدا راز اکثراً د هغه هر څه په هکله چې روان دي په کاریږي د بیلګې په توګه په کابل کې د بې نظمه موټر چلولو، د توکو د غیر عادلانه بیو یا په عامه ځایونو کې پرته له ټیکري د ښځو دګرځیدلو را ګرځیدلو په اړه. "څه کولای شو؟ دا ډموکراسي ده. " د ځواب ویونکو تر منځ یو پراخ باور ؤ چې باید د وګړنیزې آزادۍ لپاره چې دخلکو د ځینو ټاکلو ډلو په آند د ډموکراسۍ په معنی ده باید ملي کنټرول ځینې سیستمونه موجود وي.

د ټولنیز کنټرول لپاره د غوښتنو سره اړوندې هغه توګه چې په افغانستان کې "ډموکراسي" په لیبرالو ارزښتونو لکه د دین او دولت بیلوالی، د بازار اقتصاد او د جنسیت مساوات( د ښځو د حقونو سره د مخالفت په توګه۱) له ټینګار سره د لیبرالي او یا "لویدیځې "ډموکراسۍ په توګه تفسیریږي. دا په نیغه د اسلامي ډموکراسۍ سره پرتله کیږي، په کوم کې چې سیاسي ډموکراټیک نظام د اسلام په چوکاټ کې برابرشوی دی. په داسې حال کې چې هغه ارزښتونه چې په یو اسلامي چوکاټ کې مشخص شوي دي او کیداي شي د ځواب ویونکو تر منځ سره توپیر ولري خو د ژوند د هغه لارې چارې او ارزښتونو سره چې د چوکاټ څخه بهر دي او ددې ارزښتونو سره سمون نه لري مخالفت کوي.

۱ یو شمیر ځواب ویونکو پر هغه څه یې ټینګار کاوه په کوم چې د ښځو حقوق په اسلام کې منل شوي دي، خواکثراً دا تور موجود ؤ چې دغه حقونه له هغه څه سره چې د نارینه وو لپاره دي توپیر لري. نو دا کیدای شي چې د جنسیت پر مساواتو د یو لیبرال ټینګار څخه چې د ښځو او نارینه وو لپاره یې ورته حقونه ورکړي دي توپیر شي. چې دغه موضوع به د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداری د افغانانو لرلید د ډموکراسۍ او ډموکراټیک کولو په اړه راتلونکو رپوټونو کې به ډیر بحث پرې وشي.

دا په لیبرالوارزښتونو ټینګار دی نه د یوسیاسي سیسټم په توګه د ډموکراسۍ پرنظریې، چې په څیړنه کې د ډیرو ځواب ویونکو په آند ستونزې جوړونکې ؤ. ځواب ویونکې تیار وو چې دا د هغو ټولنیزو محدودیتونو سره او په یو اسلامي چوکاټ کې یې وساتي ، ډموکراسي په افغانستان کې د غوښتنې وړ وه.

## وړاندیزونه:

- نړیواله ټولنه باید د "ډموکراسۍ "زمینوې مفهوم تایید کړي، چې اکثراً په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا بې له شکه په دې اړه د لږې پاملرنې سره چې دغه اصطلاح به په افغاني شرایطو کې څه مفهوم ولري او افغانان به څه ډول له هغې سره چلند وکړي او هغه به څرنګه تفسیر کړي، اکثراً ډیره مثبته انګیرل شوې ده. د ۱۳۸۹ کال د کابل کنفرانس مرستندویه ټولنې ته یې یو خورا مهم فرصت برابروي څو د ډموکراسۍ پر اصطلاح له سره غور وکړي او په افغانستان کې د هغه پیچلی مفهوم تایید او افغاني کیدو لورته وګوري او د امکان تر حده د افغانستان حکومت د ډموکراټیک کولو د بهیر د واکمن په توګه وهڅوي. نړیواله ټولنه باید په دې لاره کې د یو ګام په توګه د ډموکراسۍ د کلمې پر ځاې د انتخابي حکومت د کلمې په کارول په پام کې ولري. همدا راز د کابل کنفرانس دا فرصت یې برابروي څو په پر هغه مهمې موضوع بحث وشي چې په افغانستان کې د یوې انتخابي اداری د هڅولواو پیاوړتیا په موخه څه ډول نړیوالې مرستې به غوره او د منلو وړ وي.
- د افغانستان حکومت باید ډموکراسي د افغان شرایطو سره سم تعریف کړي: هغو نظریو او لرلیدونو ته په پام سره چې د افغانانو په مینځ کې دي ددې دندې پر غاړه اخیستلو ته سترګې په لاره اوسیدل به ناهیلي کوونکې وي. خو په افغاني شرایطوکې د ډموکراټیکو ارزښتونو او د هغوی د معنی په هکله په پارلمان او ټلویزیون کې پیل شوې بحثونه به په ټولیزه توګه د ډموکراسۍ منلو ته لاره هواره کړي. له دې وړاندې د کابل په کنفرانس کې د افغانستان حکومت ته لازمه ده چې ډموکراټیک سیسټم تایید کړي، خو په عامه ډول باید په دې اړه چې په افغاني شرایطو کې به څه ترکیب ولري بحثونه وهڅوي. داسې ښکاري چې دا ډول بحثونه به داسې پایلې ولري چې د لیبرال او لویدیځو ډموکراټیکو اصولو سره به په آسانۍ اړخ ونه لګوي. خو دا مهمه ده چې ډموکراسي د افغان شرایطو سره سم تعریف شي څو له هغو پراخو باورونو سره مخالفت وشي چې ډموکراسي یوه را وارده شوې پدیده ده او له دې کبله یو مصرفیدونکی سیاسي سیسټم دی.

## ۲. نه تر سره شوې هیلې ، بې اعتباره سازمانونه

هغه معیارونه چې د ځواب ویونکو له خوا د افغان ډموکراسۍ د څرنګوالي په هکله د قضاوت لپاره ټاکل شوي دي اکثراً د ډموکراټیکو هیوادونو د مهمو ځانګړتیاوو لکه، د اقتصادي پراختیا لوړه کچه، د قانون واکمني او د فساد پر وړاندې د پلټنې او انډولتیا پر بنسټ ولاړ وو.دا یوه د درک وړاړیکه ده،خو هغه ژورې هیلې یا تمې چې ډموکراټیک نظام یې باید تر سره کړي څرګندوي. اکثراً په مرکو کې بحثونه له

څېړنې د ۱۳۸۸ کال د رایه ورکونې لپاره یې د پام وړ لیوالتیا وموندله. د ولسمشریزو او د ولایتي شورا ګانو په ټاکنو کې د خلکو د ګډون لامل په ژوره توګه ځایي ؤ. چې په دې کې د پام وړ ځایي ټولنې د ځواک او لویوالي د ځرګندولو اړتیا، دداسې یوه استازې اداري د رامینځ ته کیدو لپاره هیلې کوم چې د خدمتونو په رسولو کې به د مسوولیت احساس په درلودلو کې د پوره شهرت څخه برخمن ؤ، او د ځایي سیاسي لوبو لپاره د ملي او ولایتي ټاکنیزو ډګرونو په کارول شامل وو. په ټولیزه توګه د ځواب ویونکو په مینځ کې یوه عمومي هیله دا وه چې په ټاکنو کې به ګډون د یو مثبت بدلون لامل شي.

سر بیره پردې ، د پارلماني دندو او تحرکاتو په هکله د رایه ورکونکو د لرلید په هکله د لومړنۍ څېړنې موندنې ځرګندوي چې د افغانانو په منځ کې د راتلونکو پارلماني ټاکنو لپاره د پام وړ تمې لیدل کیږي او دا چې آن اووه میاشتې وړاندې په ځایي ټولنو کې د پام وړ تیاری تر سترګو کیږي، د بیلګې په توګه د ټاکنو د نوماندو د لیستونو خپرول. د پارلمان غړې په خپلو ټاکنیزو حوزو کې په خپله د رایه وکونکو د ملاتړ شبکې برابروې، آن وړاندې تر دې چې ځان له دریو ډلو یعنې حکومت پلوه، د مخالفینو، او یا بې پرې څخه له یوې سره اړوند کړي ډیرې هیلې تر سترګوکیږي. د غه لومړنۍ موندنې هغه څه ځرګندوي چې له پراخو درغلیو او نا امنیو سره سره په افغانستان کې ټاکنې د واک د لیږد د یوې مشروع او غوره وسیلې په توګه ګڼل کیږي .

## وړاندیزونه:

- پارلماني ټاکنې باید تر سره شي او د ټاکنو مهال ویش باید جوړشي. ټول فعالین باید په دې وپوهیږي چې په داسې حال کې چې ټاکنې بشپړې نه وې د ټاکنو بهیر د افغانستان په سیاسي سیستم کې د ثبات یو احساس برابروي - هغه ثبات چې په مخکینیو سیاسي رژیمونو کې یې له یوې لسیزې څخه یې زیات دوام ونه کړ. که چیرې د ډموکراټیک حکومت دوره دوام وموومي، دا به غوره وي چې د ټاکنو کاري چوکاټ چمتو شي، د ډموکراټیک کولو د بهیر د پلې کولو لپاره دې یو اصل برابر شي. په منیځ مهال کې د ټاکنو د هغه شمیر له امله چې په اساسي قانون کې یې غوښتنه شوې ده او ټولو ته په یوه وخت کې د مالي مرستوپه برابرولو کې د افغان حکومت د بې کفایتې له کبله به د ټاکنوپر اوسنې مهال ویش له سره غور اړین بریښي. خو په حاضر وخت کې دا بنسټیز او په پراخه توګه منل شوې معیارونه چې باید وسائل شي برابروي.
- ټاکنیز سمون: د ټاکنو د اوسنې قانون سمون د رونوالې په رامینځ ته کیدو کې ستونزې ځرګندوي کله چې شخصي سیاسي ګټې له دا ډول رونوالې څخه برخمن نه شي. که څه هم چې د ټاکنو په خپلواک کمیسیون کې بدلونونه بې له شکه اړین دي، داسې ښکاري چې د پارلماني ټاکنو څخه وړاندې د اړینو اصلاحاتو راوړل به شونې نه وي. سره له دې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د څېړنو څخه دا لاندینۍ درې یادونې باید په پام کې ونیول شي:

۱. له دې سره سره چې ګڼ شمیر افغانان په کورنیو چارو کې نړیوالې لاسوهنې غندي خو لاتر اوسه د ټاکنو نړیوال څارونکي ګمارل کیږي. که چیرې امنیتي شرایط دوی ته د کار کولو اجازه ورکړي، ددوی پیاوړی حضور به د ټاکنو په مرکزونوکې د درغلیو پر وړاندې مبارزې سره به مرسته وکړي.

۲. ددې سره اړوند هغه مرستندویه ټولنې چې د ټاکنو مرکزونو او د رایو د شمیرلو مرکزونو ته تخنیکي مرستې برابرې کړې دي، په دې پړواکې تر ټولو غوره لاره به داوي چې په نسبتاً غیر سیاسي توګه رونوالی وهڅوي چې دا د نړیوالو فعالینو لپاره د منلو وړ او د قانوني او مشروع فعالیت په توګه به درک شوی وي.

۳. ناامني د درغلیو سره مرسته کوي، نو ځکه د ټاکنو په درشل کې د ټاکنو په بهیر او له ټاکنو څخه وروسته پړاو کې د امنیت د تامین لپاره د ژمنو دوام خورا مهم دی.

نوموړې پالیسي پاڼې په لنډ ډول هغه مهمې موضوعګانې چې د ځواب ویونکو له خوا د انتخابي اداري په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري په روانه څېړنه کې رابر سیره شوي دي ځرګندوي او اته وړاندیزونه او یا د پاملرنې وړ ټکې چې د ډموکراټیک کولو د بهیر د پیاوړې کولو پر لورلاره هواروي وړاندې کوي. د کابل کنفرانس داسې یو بنسټیز فرصت برابروي څو ځینې دغه وړاندیزونه په ژوره توګه په پام کې ونیول شي او په پالیسی کې ترې کار واخیستل شي. دا د ۱۳۸۹ کال د په پام کې نیول شوو پارلماني ټاکنو لپاره به خورا مهمه وي.

طرح او دیزاین: وکیل وسیم